# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|


دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ
۲۶ فبروری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۱۷

پښتوترجمه

تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی

د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی

### یودیرشمه مسئله

داده: چی پوه شی چی خلق په دنیا کی په پنځوفرقوسره بیلیږی:

یو: مومن. بل: کافر. دریم: منافق. څلورم: ګناهکارمومن له توبی سره. پنځم: ګناهکارمومن پرته له توبی.

پس پوه شه : چی هرڅوک چی له دنیا څخه په کافری اویا منافقت کی ولاړشی، دوزخ به یی ځای وی ابداًالاباد.

اوهرمومن چی له توبی سره له دنیا ولاړ شی هغه به په جنت کی وی دتل لپاره. اوهرڅوک چی پرته له توبی له دنیا ولاړشی، هغه دخدای په مشیت(غوښتنه) کی دی. که یی پرته له عذابه وبښی، اویایی دګناه په اندازه عقوبت کړی اوآخریی وبښی.

همدومره بس دی، څوک چی یی ومنی. ځکه چی حق تعالی ویلی: دشرک اهل نه بښم، اوهرڅه چی پرته له شرکه وی که وغواړم هغه بښم. قوله تعالی: اِنَّ الله لاَیَغْفِرُ اَن یُشرِکَ بِهِ وَیَغْفِرُ مَادونَ ذالِکَ لِمَنْ یَّشَآءُ( یعنی خدای یی نه بښی چی دهغی سره شریک ونیسی، اوبښی پرته له دی څخه، هغه چی وغواړی. سوره النسآء آیه ۱۱۶). اوبل ځای فرمایی: فَیَغْفِرُ لِمَن یَّشآءُ وَیُعَذِبُ لِمَنْ یَّشأءَ. (بښی هغه چی وغواړی اوعذاب ورکوی هغه ته چی وغواړی. سوره بقره آیه. ۲۸۴).

اما خبردادی: کله چی داآیت نازل شوچی: لَهَآ سَبعَةٌ اَبوابٍ لِکُلِّ بَابٍ مِنهُم جُزٌ مَقسُوم. رسول علیه الصلوة والسلام فرمایی: دغه درک چالره دی؟ وویل: ستادامت دګناهکارانو لپاره.

رسول علیه السلام په ژړاشو، اوکورته راغی او اوه ورځی له کوره دباندی ونه ووت مګرلمانځه ته. اوله چاسره یی خبری ونکړی. ترڅو حق تعالی هغه ته دشفاعت وعده ورکړه. قوله تعالی: وَلَسَوفَ یُعطِیکَ فَتَرضَی.( اوژربه ستاخدای تاته هغه څه درکړی چی ته پری خوشحاله شی. الضحی. ۵)؟. ځینی به ستاپه شفاعت سره ببنی. پس همدومره بس دی هوښیارلره.

## دوه دیرشمه مسئله

داده: چی یوه شی چی حق تعالی هرڅه چی وغوښتل وکړل، اوهرڅه چی وغواړی کوی. اګرکه خلق ځینی نیکی وکړی اوځینی بدی وکړی. حق تعالی په ځینو فضل کوی اوله ځینو سره عدل. اوهغه دخدای عزّوجلّ حکم دی. اوهیڅکله له حق تعالی څخه پربندګانوظلم نشته. اوهرڅوک چی خدای ته دظلم صفت کوی هغه کافردی. اوهغه په هرڅه توانا دی اوپرټول مخلوق دانا دی.

قوله تعالی عزّوجلّ: اَلَمْ تَعلَم اِنَّ اللهَ عَلی کُلِّ شَیْئٍ قَدِیر. اوبل ځای فرمایی: وَاللهُ یَعلَمُ وَاَنتُم لَا تَلَمُونَ. اوبل ځای فرمایی: اِذا قَضی اَمراً فَاِنَّمَا یَقُولُ لَهُ کُن فَیَکُون. پس مونږټول نادانان یو اوکمزوری. هغه قادردی پرکمال، اوډیرشیان چی مونږ ښه بولو،اوبدوالی یی په دننه کی دی. اوله ډیرشی څخه کراهت لرو، ولی هغه زمونږلپاره بهتره وی.قوله تعالی: وَعَسی اَن تَکرَهُو شَیئاً وَهُوَ خَیرٌ لَکُم وَعَسی اَن تُحِبُّوا شَیئٌ وَّ هُوَ شَرٌ لَکُم وَاللهُ یَعلَمُ وَاَنتُم لَا تَعلَمُونَ.

اوخبردادی: چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: چی حق تعالی ویلی: زماله بندګانو څخه داسی بندګان دی چی که یی صلاح په روغتیاکی وی، که یی ناروغه کړم په ما عاصی کیږی. اوبندګان چی دکارصلاح یی په بډایتوب کی دی، که یی درویش کړم په باندی عاصی کیږی.

یوه ورځ عیسی علیه السلام وویل: یاربه! له دوستاڅخه دی یو دوست ماته را ښکاره کړه! حق تعالی وویل چی فلانی موضع ته شه، چی زما له دوستانو څخه یو هلته دی چی ویی ګوری. عیسی علیه السلام هلته لاړ، یو سړی یی ولید په ویرانه کی چی لمرتور سوی و. اوله ټولی دنیا څخه هیچا ورسره خبری نه وی کړی.وویل: یاربه! داستا دوست دی؟ (حق تعالی وفرمایل دازما دوست دی). عیسی علیه السلام وویل: بل دوست دی هم راښکاره کړه! فرمان راغی چی هغه فلانی ځای ته لاړ شه.عیسی علیه السلام هغه ځای ته لاړ ولیدل: لوی کوشک اولویه درګاه. خادمان اوحاجبان په درګاه کی دملوک په رسم ولاړ. څرنګه چی یی عیسی علیه السلام ولید هغه یی کوشک ته بوت په ډیراعزاز اواکرام سره. اودپاچاهانو په رسم یی ورته دسترخوان وغوړاوه له هرډول خوړو څخه ډک. عیسی علیه السلام لاس ونیو اوویی نه خوړ. پس جبرئیل علیه السلام راغی او وویل چی : حق تعال فرمایی : وخوره! چی دازمادوست دی. عیسی علیه السلام وویل: یارب! یو دوست په دی توانګری اوبل په هغی درویشی.

حق تعالی وفرمایل: که توانګر درویش کړم په ماعاصی کیږی، او ددی دوست صلاح په توانګری کی ده، که درویش توانګرکړم بیاهم په ماعاصی کیږی، اوزه پربندګانو داناتره یم، چی دهربنده صلاح په څه شی کی ده؟ اوزمالخوا پربندګانو ظلم نشته. قوله تعالی: وَمَارَبَّکَ بِظَلَامٍ لِلْعَبِید. اوبل ځای فرمایی: وَمَا اللهُ یُرِیدُ ظُلماً لِلعِبَاد. همدومره بس دی هوښیارلره.

## دری دیرشمه مسئله

داده: چی یوه شی چی قرآن په مصحفونوکی لیکل شوی اوپه ژبه ویل کیږی، اوپه زړونو کی یادیږی. اوماشومان چی لوحو لیکی قرآن دی، او امامان چی په محراب کی لولی قرآن دی اوداچی زمونږسره په دنیا کی دی قرآن دی.

اوباید یوه شو: چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام دی نامخلوق. اوجبرئیل علیه السلام قرآن له ځانه راوړ اویا دخدای عزّولّ لخوا؟ اوقرآن یی چی واورید په حقیقت و که په مجاز؟ پس که په حقیقت یی واورید، نو محمد صلی الله علیه وسلم ته یی په مجازراوړ، پس یو په حقیقت دی اوبل په مجاز، پس قرآن دوه شول.

پس هرڅوک چی داسی وایی: چی په مصحفونو کی قرآن نه دی، هغه دقرآن له تنزیل څخه منکردی، اودجبرئیل راوړلو څخه منکردی ، هغه کافردی.

پس باید پوه شوپه حقیقت سره چی : په مصحفونوکی قرآن دی، اومونږقرآن لولو. قوله تعالی: الم، ذَالِکَ الکِتَابُ لَارَیبَ بِیهِ. اوبل ځای فرمایی: وَمَا کَانَ هَذالقُرآنَ آن یُفتَری. اوبل ځای فرمایی: وَلَقد یَسِّرنَا الْقُرآنَ لِلذِکرِ. اوبل ځای فرمایی: وَاِنَّهُ لَتَنزِیلُ مِن رَبِّ الَعَلَمِینَ. اوپه دی هکله ډیرآیاتونه شته اودحق تعالی لخوا فرما ن دی. چی قرآن ولولی(تلاوت کړی).قوله تعالی: فَاقرَوُ مَاتَیَسِّرَ مِنَ القُرآن. پس که داقرآن نه دی، ته څه لولی؟ اوبل ځای فرمایی: وَاِذَا قَرءَ الْقُرآنَ فَاستَمِعُوالَهُ وَانصِتُوآ. وویل: چی قرآن لوستل کیږی، واوری اوخاموش اوسی!

اوبل ځای فرمایی: یَسمَعُونَ کَلَامَ الله. اوبل ځای فرمایی: اِنَّا سَمِعنَا قُرآناً عَجَباً.

پس په دی آیاتو سره حقیقت دی: چی قرآن همدا قرآن دی چی حق تعالی په مصطفی علیه الصلوة اولسلام باندی منت کښیښود. وَلَقَد آتَینَا کَ سَبعاً مِنَ الْمَثَانِی وَالْقُرآنَ العَظِیم. اوبل ځای فرمایی: لَایَمَسُهُ اِلّآ الْمُطَهَرونَ. تَنزِیلُ مِن رَبِّ العَالِمِینَ. وویل: مصحف مه لمس کوی، مګرپه طهارت سره.

که په مصحف کی قرآن نه وای، کوم شی یی ویلی چی مه لمس کوی. اوبل ځای فرمایی: وَقَالَ الَّذِینَ کَفَرُوالَن نُؤ مِنَ بِهَذَالقُرآنَ. اوبل ځای فرمایی: قُرآناً عَرَبِیّاً ذِی عِوَجٍ ای غیرمخلوق.

که ملحدوپوښتی: چی قرآن هغه دی چی خدای ویلی؟ یا هغه دی چی جبرئیل محمّد ته راوړی، چی په مصحفونو کی لیکل شوی؟ یا هغه دی چی ته یی لولی؟ ووایه: چی حق تعالی قرآن وویل، ولی کلام یی بی هجاء اوبی تعلیم څخه وویل، اوبی حرفه اوبی آوازه اوبی صوته وویل. اوحق تعالی جبرئیل ته واراواوه قرآن. اودرسول صلوة الله علیه یارانو قران اوریده. اوصحابه راټول شول دقرآن په راټولو. عبدالله ابن مسعود، علی ابن ابی طالب اوعثمان ابن عفان رضی الله عنهم اجمعین مصحفونه ولیکل. ولی باید پوه وچی حق تعالی کلام پرته له حروفو اوهجاء وویل، اوجبرئیل په حروفو سره قرآن په محمّد علیه الصلوة ولسلام ولوست. حروف په حروف اوهجاء په هجاء اوصوت په صوت پسی. اورسول صلی الله علیه وسلم قرآن په حروفو لوست اوپه حروفویی اورید اومونږ هم په حروفو سره اورو اوپه حروفو سره یی لولو.

ولیکن داروا نده چی داسی وویل شی : چی دالیکنه چی په مصحف(کاغذ) کی ده قرآن نه دی، دا کرامیانو مذهب دی اوکرامیان وایی: هغه څه چی خدای وویل بیل دی اوهغه څه چی جبرئیل وویل بیل. اودا داسی معنی ورکوی چی جبرئیل کوم څه چی خدای تعالی ویلی رانه وړل. پس دکرامیانو په نزد قرآن ډیردی. یو چی خدای وویل. بل چی جبرئیل راوړ اوبل چی مونږ لولو. اوداسی روا نده. اوهرڅوک چی داسی اعتقاد ولری هغه کافردی.

پس پوه شه : هغه څه چی په مصحف(کاغذ) کی دی هغه قرآن دی نه کم نه زیاد. اودسنت اوجماعت مذهب دادی: چی کاغذ اوقلم اومداد مخلوق دی، ولکن هغه څه چی په مصحف کی لیکل شوی په حقیقت سره دخدای کلام دی عزّوجلّ. ځکه چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ویلی: اَلْقُرآنُ کَلَامُ اللهِ غِیرِ مَخلُوقٍ. وَمَن قَالَ مَخلُوقٌ فَهُوَ کافِرٌ بِاالله تعالی وَلَعنَةٌ اللهُ وَالْمَلَآئکَةُ وَالنَّاسُ اَجمعِین.

اوکه محلدی وپوښتی: چی خدای تعالی کلام وویل؟ ووایه: بلی! اوکه ووایی څه یی وویل؟ ووایه: قرآن یی وویل. اوکه ووایی: چیرته یی وویل؟ ووایه : نه په کوم ځای کی. که ووایی چی نرم یی وویل که په زوره.؟ ووایه: نه نرم اونه هم په زوره.

که ووایی : په صوت سره که بی صوته؟ ووایه: نه په صوت اونه هم بی صوته. ځکه چی هواداران داسی وایی: چی دالیکنی دقرآن او حروف یی ، ټول مخلوق دی. او وایی: حرف کولای شو اوړد کړو اویا هم لنډ.

ووایه: هرڅول چی ولیکی، الف یا ب یا ت له ده به راو ووزی. اونه وینی چی وایی: په لمانځه کی یی قرآن اوږد وویل یا لنډ، په هغی هیڅ لازم کیږی نه. پس هغه ملحد ته ووایه: چی حق تعالی وویلی: المّ ذالِکَ الکتابَ لَاریبَ فِیهِ. ته هغه لیکه چی خدای تعالی ویلی.؟ اوکه ووایی چی هماغه لیکم چی خدای ویلی، پس مقرراغی چی هغه څه چی په مصحفونو

کی لیکل شوی قرآن دی پرته له شکه. اوکه وایی قرآن نه دی، هغه مبتدع اوهواداره اوضلال دی. پس دغه دلایل چی یاد شول وساتی ترڅومسلمان اوسی.

پس که یو طاعن وایی: چی مصحفونه وسوزیدل، څه وایی چی قرآن وسوزید اوکه نه؟ ووایه: که مومن وسوزی، څه وایی، چی ایمان یی وسوویا نه؟ که ووایی چی قرآن یو او کراسه اوه. ووایه چی لمریو دی اوروښنایی ډیری. اورسول علیه الصلوة والسلام ویلی: لاّصلوةَ اِلّآ بِالْقُرآن. وویل: لمونځ نشته مګرپه قرآن. اوبل ځای فرمایی: لَاصلوة اِلّآ بِالقرآئَت . لمونځ نشته مګر په قرائت سره. پس همدومره بس دی هوښیارلره.